# امیر امان الله خان

ستونزې

**غازي امان الله خان** (زېږېدنه: ۱ د جون، ۱۸۹۲ - مړینه: ۲۵ د اپریل، ۱۹۶۰) له ۱۹۱۹ زېږېز کال نه تر ۱۹۲۹ زېږېز کال پورې د افغانستان پاچا وو. امان الله خان د افغانستان هغه پاچا دی ، چې په ۱۹۱۹ زېږېز کال يې د خپل ملت په ملاتړ انگرېزان له هېواد څخه وشړل او يو خپلواك او سرلوړی حکومت يې جوړ کړ او په همدې توگه د افغانستان د خپلواکۍ گټيالی بلل کېږي. د غازي امان الله خان د حکومت وختونه د افغانستان په تاریخ کې د يو بې ساري ولسواکۍ او ټولنيزو بدلونونو دوران

وو . امان الله خان په ۱۳۰۹هـ. ق کال د کابل په پغمان کې زیږېدلی، دی د امیر حبیب الله خان زوی ، د امیر عبدالرحمن خان لمسی ، د امیر محمد افضل خان کړوسی او د امیر دوست محمد خان کودی دی . د امان الله خان مور سرور سلطانه بیگم نومېده . کله چې په ۲۰ د فبروري، ۱۹۱۹ زېږیز کال کې دده پلار په د لغمان په کله گوش کې شهید شو ، نو په هغه وخت کې امان الله خان د کابل والي وو او د کابل د پوځ او خزانې ټول واک دده په لاس کې وه . په دې وخت کې امان الله خان په کابل کې پاچا شو او د خپلې پاچاهۍ له اعلان سره سم یې له انگرېزانو څخه د افغانستان خپلواکي اعلان کړه او د انگرېزانو پر ضد یې په ټول هېواد کې د خپلواکۍ د غزا ږول وغږاوه . نوموړي ډېر ژر د افغانستان د خلکو او قبایلو ملاتړ ترلاسه کړ او په همدې توگه لس کاله د افغانستان پاچا پاتې شو.

اعلیحضرت امان الله خان دې ته ډېر لېواله و ، چې

هېواد يې پرمختګ وکړي او د نړۍ له پرمختللیو هېوادونو سره سیال شي، ده په همدې موخه د هېواد په بېلا بېلو ځایونو کې د نجونو او هلکانو لپاره ښوونځي جوړ کړل .

## امان الله خان

| | |
|---|---|
| واکمني | ۲۸ د فبروري، ۱۹۱۹ ز. - ۱۴ د جنوري، ۱۹۲۹ ز. |
| زېږون | June 1, 1892 |
| زېږونځای | پغمان, افغانستان |
| مړینه | ۲۵ اپریل ۱۹۶۰ میلادی (۶۷ کاله) |
| د مړینې ځای | زیوریخ، سویس |
| مخکنی پاچا | نصرالله خان |
| وروستنی پاچا | امیر عنایت الله خان |
| ملکه | ثریا طرزي |

# زده کړې

لومړنۍ زده کړې یې په شاهي دربار او بیا یې نورې زده کړې په حربیه مدرسه (حربیه ښوونځي) کې تر سره کړې . په پوځي زده کړه کې یې ځانګړی استاد هم درلود چې محمود سامي پاشاه نومېد . امان الله خان د خپل پلار په دربار کې زیات محبوبیت او مینه وال لرل . کله به چې امیر چېرته په سفر ولاړ ، نو د خپل عادت له مخې به یې خپل مشران زامن په نوبت سره ځایناستي ګرځول او کله به چې امان الله خان ته نوبت ورسېد، نو له درباریانو سره به یې خورا غوره چلند کاوه ، له بندیانو سره به یې ډېره نرمي کوله ، او ان کله به یې پټ لیده کاته هم ورسره کول او پر پوځیانو به یې ځانګړی پام و . همدا لامل و چې کله یې خپله پاچاهي اعلان کړه ، نو په دربار کې له کومې ځانګړې ستونزې سره مخ نه شو . امان الله خان ډېر

زغم درلود ، هوښيار او مدبر سړی و ، په ډېره صريحه او څرګنده لهجه يې خبرې کولې او کله به يې چې وينا کوله مقابل لوری به يې ډېر زيات تر خپل اغېز لاندې راووست . کله چې د امير حبيب الله خان د پاچاهۍ په دوران کې روڼ اندو د مشروطيت غورځنګ جوړ کړ ، نو امان الله خان د همدې غورځنګ په فعاليتونو کې هم بشپړه ونډه واخيسته . د ځينو فعاليتونو له امله امير حبيب الله د همدې غورځنګ غړي بنديان کړل ، نو اعليحضرت امان الله د خپلې پاچاهۍ په لومړيو ورځو کې له زندان څخه را خلاص کړل او په دې توګه يې غوښتل چې د همدغو روڼ اندانو له پوهې څخه د هېواد په پرمختيا کې کار واخلي. امان الله خان يو ځوان هېوادپال شخصيت و ، چې د افغانستان د سمسورتيا او پرمختيا لپاره يې ډېرې هلې ځلې وکړې ، خو له بده مرغه چې د پرمختيا او سمسورتيا په لار کې ورته يوه مکار دښمن کمين نيولی و او امان الله خان

يې په دغه لار وړاندې تګ ته پرېښود . امان الله خان د خپل پلار د مرګ پر اوومه ورځ ملت ته په وينا کې داسې وويل: "ای د افغانستان معظم ملته! ما د پلار د شهادت پر وخت د سلطنت وکالت په کابل کې پر غاړه درلود او اوس په هغه اصالت د امانت دروند بار متوکلاً او متعصماً پر غاړه اخلم. کله چې ستر ملت زما پر سر د پاچاهۍ جوغه کېښودله، ما عهد وکړ چې د افغانستان دولت به لکه د نړۍ نورو مستقلو قدرتونو د هېواد په داخل او خارج کې ازاد او مستقل وي ، د افغانستان خلك به د قانون تابع وي ، بېګار او نور جبري کارونه به بند وي . دلته به ډېر اصلاحات راځي، چې هېواد په نړۍ کې خپل مناسب ځای ومومي، زه به د "شاورهم فی الامر" پر اساس د هېواد چارې اجرا کوم، تاسې به د خپل دين او هېواد په چارو کې ډېر هوښيار اوسئ او په بيدارۍ به وطن ساتئ. زه تاسو،

ټول اهل اسلام او ټول بني نوع انسان ته خير او سعادت غواړم.”

کله چې اعليحضرت امان الله خان انګرېزانو ته د افغانستان خپلواکي اعلان کړه، انګرېزانو هېڅ غوږ پرې ونه ګراوه، نو ځکه اعليحضرت اړ شو چې د انګرېزانو په وړاندې د غزا او جهاد اعلان وکړي. افغان ملت په ډېر لږ وخت کې انګرېزانو ته ماته ورکړه. انګرېزانو چالاکي وکړه، د خپلې شرمېدونکې ماتې د پردې کولو لپاره يې د سولې خبرې پيل کړې او د افغان غړېزيانو د لا نورې پرمختيا مخنيوی يې وکړ. د هېواد د فرهنګ د غوړېدا په لړ کې د اعليحضرت امان الله خان لومړی ګام د امان افغان خپرول وو، چې لومړۍ ګڼه يې د ۱۹۱۹ زېږيز کال د اپرېل پر ۱۲مه د عبدالهادي داوي په مديريت خپره شوه. دغې خپرونې د خلکو د ذهنونو په روښانولو کې پوره ونډه واخيسته او هېوادوالو ته يې

د هېواد د پرمختیا لوری په ګوته کړ. د مطبوعاتو په برخه کې بیا وروسته په لسګونو نورې جریدې او مجلې خپرې شوې او په هر ولایت کې یوې جریدې خپرونې کولې. همدا وخت د ارشاد النسوان په نامه د ښځو یوه خپرونه هم وه. د قانون جوړلو په برخه کې امان الله خان د ۱۹۲۲ زېږیدیز کال د فبروري پر ۲۹مه په جلال آباد کې د ملت د۸۷۲ استازیو په ګاُون لویه جرګه جوړه کړه، او په 1923 کی د افغانستان لومړنی اساسي قانون یې تصویب کړ. په اقتصادي برخه کې یې د صنایعو انکشاف ته پوره پام وکړ او په باندیني تجارت کې افغاني پیداوارو د نړۍ مارکېټونو ته لاره ومونده. په عمراني برخه کې نوي ښارونه جوړ شول او د کابل ښار له پخوا څخه څو چنده پراخ شو. د ولایتونو تر منځ لارې او سړکونو له سره جوړ شول او په لارو کې د مساپرو د هوسایۍ لپاره هوټلونه په کار ولوېدل. اعلیحضرت افغان زده کوونکي د لوړو زده

کړو لپاره بهرنیو هېوادونو ته په دې موخه واستول
چې د هېواد په بشپړه آّبادۍ او سمسورۍ کې برخه
واخلي. خو له بده مرغه ځینو شر غوښتونکیو د پاچا
دغو ټولو ښو کارونو ته بل نوم او عنوان ورکړ، پاچا ته
یې سردرد او د پرمختیا د کارونو په وړاندې یې
خنډونه جوړ کړل. کله چې اعلیحضرت امان اللّٰه خان د
هېواد د لا پرمختیا په هیله د ۱۹۲۷ زېږیز کال په
وروستیو کې د اروپا په سفر ووت او چې بېرته له
سفره راستون شو ، د پاچا د اصلاحي کارونو په
وړاندې خنډونه لا نور هم زیات کړل شول. او بیا د
سقاو زوی اړې ګړې جوړ کړ. اعلیحضرت و نه غوښتل
چې په هېواد کې یې وینه تویه شي او د ۱۹۲۹ زېږیز
کال د جنوري په لومړۍ اوونۍ کې یې استعفاء ورکړه
او پر ځای یې خپل ورور عنایت اللّٰه په پاچاهۍ وټاکه.
خو د سقاو د زوی حبیب اللّٰه کلکاني په سر کې د
پاچاهۍ نشه وه، ارګ یې محاصره کړ او اعلیحضرت

عنایت الله هم له پاچاهۍ لاس په سر شو. همدا مهال اعلیحضرت امان الله خان د کندهار، له لارې هند او له هغه ځایه بیا ایټالیا ته لاړ، هملته یې له هېواده لرې ژوند غوره کړ او د ۱۹۶۰ کال د اپرېل پر ۲۶مه یې له دې نړۍ سترګې پټې کړې. اروا یې ښاده . د اعلیحضرت د وصیت له مخې د هغه جنازه افغانستان ته راوړل شوه او په جلال آباد کې د خپل پلار د مرقد تر څنګ خاورو ته وسپارل شو.

اعلیحضرت غازي امان الله خان د۱۹۱۹ زیږدیزکال داپریل په میاشت کې دکابل په عیدګاه جومات کې پر منبر باندې دافغانستان دخپلواکۍ اعلان کوي

# انځورتون

غازي امان اللّٰه خان

غازي امان اللّٰه خان

غازي امان الله خان

غازي امان الله خان

غازي امان الله خان د خپلې مېرمنې ثريا طرزي سره

د غازي امان الله خان د ماشومتوب يو انځور

د غازي امان الله خان یو بل انځور

غازي امان الله خان په پغمان کې

غازي امان اللّٰه خان په پغمان کې د وینا په حال

غازي امان اللّٰه خان د ثریا طرزي سره

غازي امان الله خان

غازي امان الله خان

غازي امان الله خان

غازي امان الله خان

غازي امان اللّٰه خان

غازي امان اللّٰه خان په برلين کې

غازي امان الله خان په برلین کې

غازي امان الله خان او ثریا طرزي په برلین کې

غازي امان الله خان

غازي امان الله خان په برلين کې

غازي امان الله خان په برلين کې

غازي امان الله خان په برلين کې

غازي امان الله خان په برلين كې

غازي امان الله خان

غازي امان اللّٰه خان

غازي امان اللّٰه خان

## دا هم وگورۍ

باندنۍ ترنې

- Amanulla Khan: Betrayal of Nadir Khan

"https://ps.wikipedia.org/w/index.php?title=امير_امان_الله_خان&oldid=212376" نه اخيستل شوی

---

## وروستی ځل ۹ مياشتې مخکې د Bloch khan...

دا مېنځپانګه د CC BY-SA 3.0 سره سم ستاسې لاسرسي کې ده، خو چې مخالف يې وييل شوی وي.